# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد  بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم  از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com  afgazad@afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



د افغانستان انقلابي سازمان


د تلې میاشت ـ ۱۳۸۸

**سمه ده چې تاسو پخواني کسان یاست او ځو لسیزې مو کار کړی دی، خو له دې تیولو سره سره کله چې احمقانه کار وکړی او چرندیات ووایئ، خلک به تاسو ونه بخښي.**

**ملګری مائو**

## خاین څوك دی او مبارز چا ته ویلی شوو؟

د غربي جنایتکارانو په وسیله د هیواد نیواک سره، له یوې خوا مزدورو تکنوکراتانو چې له کلونو راهیسي د همدې ورځې لپاره روزل شوي وو او د هیوادپلورونکو جاسوسانو د تجمع د مرکز په توګه د مدني تولنې د بنسټونو په جوړولو سره یې دنده لرله چې په افغانستان کې د «نړیوالي تولنې» «اړین» شتون او د هیواد د سیاسي خپلواکی بی معناتوب تیوریزه کړي او په پایله کې د هیواد نیواک او د «مدرني تولنې» سره د افغانستان یوځای کیدل یو بی ساری موهبت تبلیغ کړي، په ډیره لیوالتیا سره د تیري کوونکو پښو ته یې ګلونه وشیندل او دا چې «نړیوالو دوستانو» په مستقیم ډول افغانستان د خپلې واکمنتیا لاندې ونیو او نور نو دې «دوستانو» په ځانګړي توګه امریکا او «سی آی ای» ته د هغوې د پیژندګلوي لپاره د پاکستان او «آی اس آی» ضرورت نه لیدل کیده، دا یې «افغانانو» ته لوی جشن وګڼو او یو بل ته تبریکي او مبارکي وویل. په هېواد باندې د تیري دا شور او زوږ په داسې ډول ولمانځل شو چې ګویا نور د «خاین» او «هیوادپلورنکو» اصطلاحګاني کلونه مخکې د دې ځای له سیاسي فرهنګ څخه جراحي شوي او د «هیواد پالنې» اصطلاح نوره ایدئولوژیکه او «ننګینه» ګڼل کیږي. له بل پلوه بنسټ پال او نابنسټپاله جهادي مزدورانو چې له دیرش کالو راپدیخوا د لودیځوالو سره په جوړجاړي او غوړه مالي او مزدوري کې خپل وخت تیره و، د سپتمبر له یولسمي وروسته د میلمستیاو په بلنې، راپور ورکوني او راپور اخیستني، فند اخیستلو، کنفرانسونو او سیمینارونو کې په مستقیم ډول د نیواکګرو ولینعمتانو شاګردۍته کیناستل او له هغوې سره

هومره غاړه غړی شول چې ګویا د یوې کورنی غړي دي او په خپل منځ کې هیڅ څه د پټولو لپاره نلري. نو  د «خاین» او «هیوادپلورونکي» اصطلاح چې هیڅکله دوی ته کومه معنی نلري د دې ډول اړیکو سره لا بی معنی او د اسلام آباد څخه واشنګټن ته د اقتدا د ځایګی د بدلولو له کبله دوی په عجیبه توګه خوشالي کې ډوب او د چټلي ږیرې او پکول د پرېښودو  پر ځای په دریشي او نکټایي کې تر غاړې پورې پټ شول.

«د خلکو دموکراتیك ګوند» پاتې شونو چې کلونه کلونه یې هیوادپلورنه د شوروي سوسیال امپریالیزم په لمنه کې زده او په مزدوری کې نړیوال نوم لري، نن بی له کوم ننګه، چپ او راست د همغه «طلایي روزګار» څخه چې «ټولو شکر کوپون لروا!!» یادونه کوي؛ په بلاستثنا توګه د ټولو اصلي درد دا دی چې ولې  «نړېوالي ټولنی» دا «کادرونه» عاق کړي او مزدوري ته یې نه ګماري. دې ناوړو هیره کړی که چېرې د دوی له لاسه کوم کار کیدی، نو خپل او د سوسیال امپریالیزم برخلیک به یې په دې ډول پای ته نه وی رسولي؛ له بلې خوا د «نړیوالي ټولنی» سرجاسوسان او پوځي او استخباراتي کادرونه په دې ښه پوهیږي، کله چې نن دا ناوړې د ګوتي په اشارې سره، پر هغه څه چې پرون یې وکړل، چټلي شیندي او ډیری یې په ډیر ویاړ سره په تراویح کې د «سبحان ملک القدوس» د تسبیح د پنځه ځله تکرارولو دنده په غاړه اخلي، نو هغوی ته به کوم مهم کار سرته ورسوي. خو د دې ټولو ګیلو سره سره  ځیني یې چې «ښه استخباراتي سابقه» درلودلي، اوس په «آبرومندانه» مقاماتو کې دنده تر سره کوي او د «نړیوالي ټولني» توجه له ځان سره لري او د جاسوسی«پاکي دندې» ته ادامه ورکوي. ځکه چې د دوې شرف د «تمویل» په ګرو کې دی او په مقرری سره فاصله مدیني ته رسیږي، د «ملګرو» زرهاو درودونه او مبارکي تر لاسه کوي که دا دنده یو څه مهمه وي د ګلونو له ګیډې سره یې هرکلی کیږي او خوار ملګري «دلده او حلوا» صدقه ورکوي چې یوه ورځ له دې طریق څخه به هغوی ته هم «بوخه» وځځیږي. د دې طیف په منځ کې هم  د «خاین» کلمه لاره او ځای نلري، ځکه چې په لس کلن اشغال کې، د دوی د هر یو وجدان او ضمیر داسې د «هیوادپلورنې صیقل» خوړلی که چېرې د سیا، موساد او یا د انټلجنس سرویس کارت په ښکاره ډول غاړه کې وځړوي، نه یوازې دا چې د «ملګرو» د اعتراض سره نه مخامخ کیږي، چې نور هم د دې ډول نوم لیکنې لپاره لیکه جوړوي او دې ډول عنایت ته د هغې د رسیدلو له امله د حسادت احساس کوي. علومي د «استاد» پښو ته ولیږي او ګلابزوی په ویاړ سره په تلویزیونونو کې یادوي چې یوه ورځ ورته «آمر صاحب» تیلفوني ویلي وو چې «زمونږ موخه یوه ده» او نور ملګري « د ژورې اغیزې» لاندې راولي. رباني او هغه «آمر صاحب» چې یوه ورځ د دوی جنایتکارو نامردو لسګونه ملګري ووژل او اوس  دا بیشرفان، دا ډول د خپلو همفکرانو په وینو چټلي شیندي، نو د «خاین» اصطلاح باید دوي ته بی معنی وي.

د اتو کالو  راپدیخوا چې نیواکګر ځواکونه هره ورځ زمونږ د بیوزله ولسونو لسګونه تن وژني او په ټول هېواد کې ۲۴ امریکایي زندانونه زمونږ په بی ګناه هیوادوالو ډک دي، اوس نو زمونږ وروسته پاتې افغانان هم دې پایلې ته رسیدلي دي چې هیواد یې اشغال شوی او نړیواله ټولنه له یو شمیر ویني څښونکي امپریالیستانو پرته بل څه نه ده؛ خو د مدني ټولنې سپك تکنوکراتان، بنسټپاله روڼ اندي، دموکراتیکیيان او زیات شمیر هیوادپلورنکي مطبوعاتیان، په رسنیو کې نه یوازې د هیواد نیواک ته اشاره نلري، بلکې په هیواد کې په ډېره شرمندګی د ((نړېوالي ټولنی)) د شتون په اړتیا ټینګار کوي چې لا  ښه او په زیاته کچه زمونږ د هیوادوالو وینه توی شي او په خپله «نمبرې» واخلي.

د بن کنفرانس له جوړیدو او د مزدور دولت لخوا د ګوندونو د رسمیت د فرمان د صادرولو وروسته، هر طیف او ډول ډول کسانو لکه ملخانو او میګانو د عدلیې وزارت په درشل کې لیکه جوړ کړه؛ ځیني په دې نیت چې د دې

لاړې د «نړېوالي ټولني د مشرانو» د ګوتي د سر باښه شي، ځيني د قدرت پوړيو ته د رسيدلو او ځينو د پيسو پيدا کولو پخاطر، سرونه دي آخور کي دننه کړل او ډېر ژر ۱۰۸ ګوندونه چي هر يو عدليي وزارت ته د خپلو ۷۰۰ تنو رهبري او عادي غړو عکسونو، نومونو او تذکرې د نمبر په سپارلو سره چي يو نقل يې «د ملی امنيت رياست» ته ليږل کيږي، ثبت او راجستر شول. د دې ګوندونو رهبران چي اخواني، جهادي، خلقي، پرچمي او يا منحرف شعله يان وو؛ د دې کار سره د هيواد پر نيواک، مزدور دولت او له اسارت ډک اساسي قانون چي د سياف او خليلزاد په منلو سره تصويب شوی و، د رسميت مهر ووهو. پدې رهبرانو باندې له دې کبله بايد په رښتيا هم د «خاين» نوم کيښودل شي. له دوی څخه ځيني چي يو څه روڼ اندي وو، سربيره پر دې چي د امريکايي موسسي NDI (نشنل دموکراتيک انستيتوت) د جاسوسانو د «ګوندي زده کړو» په کورسونو کي په شرمندګی سره شاګردی ته کيناستل، د «نړېوالو دوستانو» په مشوره چي په تحکم سره يې ويلي وو: «که د يو بل سره متحد نشی نو له زمونږ څخه د پيسو د مرستي تمه مه لری!!» د«ملي جبهې»، «ملي دموکرات جبهې» او د همدې شان جبهو په جوړولو پيل وکړ چي وروسته له دريوزګۍ څخه د نه چاقيدو له کبله له منځه لاړی. په دې ترڅ کي منحرف او مډال اخيستونکي کيڼ د نورو په پرتله په زغرده دې شرمندګی ته تن ورکړ او د پانګوالی جاسوسانو غوښتني ته په لبيک ويلو او د ډالرو لاسته راوړلو لپاره يې د مجيد، رستاخيز، محسن، مينا، داوود او د نورو زرګونو شعله ييا نو ويني تر پښو لاندې کړی. کله چي خلقي ـ پرچمي هيوادپلورونکو پدې اتحاد کي دا «شعله يان» په خپل لاس کي د موم غوندې وليدل او په عمل کي پوه شول چي څرنګه د نيواکګرو په وړاندې مطيع او بی ژبې دي، د واحد ګوند وړانديز يې ورته وکړ، په دې ډول يې شعله اي غرور برباد کړ او په دې کار سره د تير باران شوي شعله يانو روح په نامعلومو ګورونو کي سخت وځوراوه. خو دا چي د پلوراليزم او کثرت پالني ممثلان پدې اتحاد کي د پيسو خاوندان شول او که نه؛ هغوی په خپله پوهيږي، ځکه چي د دوی په تشکيلاتو کي يوازې «مالي مسئلې» پټه ده. له دې کبله د پاکو صفوفو په خاصه توګه د ځوانانو او خلمکيو د بی باوري يو علت پدې کي دی چي د خپلو رهبرانو د پيسو پيدا کولو په طلسم او څرنګوالي باندې نه پوهيږي او منطقا دی کار شکمن کړي دي، ډيری «ناويلي» ورته لاينحل پاتي کيږي او ورو ورو خپل اعتماد له لاسه ورکوي، اوس نو دا د انقلابيانو په ځانګړي ډول د انقلابي ځوانانو دنده ده چي فکر وکړي او هيڅ ډول تحکم ونه مني په ارزوني لاس پوری کړي چي آيا دا ډول رهبران «خاين» دي يا هغه کسان چي دا رهبران انقلابي اصولو ته په شا کولو محکوموي؟ دا چي اخوانيان، خلقيان، پرچميان او تکنوکراتان په افغانستان کي د تيري د ميخ د کلکولو کوښښ لري، هيڅوک له هغوی ګيله او انتقاد نلري، ځکه چي د افغانستان خلکو د ديرشو کالو په بهير کي دا خلك ازمويلي او پيژندلي دي، د دوی هيوادپلورنه، مزدوري، وژنه او لوټماري د هيڅ افغان له سترګو پټ ندي. خو زيات شميږ افغانان پدې باور دي چي شعله يان، وطندوست او نه تسليميدونکي کسان دي او تل د خپلو خلکو تر څنګ ودريدلي دی، د افغانستان د پرګنو د ګټو څخه دفاع کوي او اکثريت يې د هيواد پلورني مهر (له يو شمير معدودو کسانو پرته) پر خپل تندي نلري. اکرم ياري، ډاکټر فيض احمد، مجيد، محمود يان، قيوم رهبر، لهيب رستا خيز، مينا او د دې غورځنګ نور رهبران د هېواد په هر ګوټ کي د خلکو په زړونو کي ځای لري او د افغانستان د خلکو په نسبت يو ذره خيانت د هغوی څخه ليدل شوی ندی او بالاخره ټول پوهيږي چي په زرګونو شعله يانو د خپل ټاټوبي د آزادۍ او خپلواکی په خاطر ځانونه قربان کړيدي، خو د ځينو انحراف چي دې غورځنګ پوري منصوب دي او په دې کلونو کي خپل سرونه پر امپرياليستي ابزارو ايښودلي دي، د خلکو زړونه څه چي آن د دې غورځنګ د سترو شهيدانو د کورنيو د پاتي شونو روح هم ځورولی دی (هيله من يوو چي يوه ورځ د دې غورځنګ د شهيدانو د کورنيو سره د دې تشکلاتو د مرستي

په اړه نظر غوښتنه لاسته راوړ، هغه تشکلات چي د هغوی د نوم په کارولو سره مليونر شوي دي). کله چي خلکو وليدل چي د دې غورځنګ هسکه غاړه د نيواکګرو بيرغونو ته ټيټيږي او د شعله يانو د سترو وياړونو پر غاړه ننګينه زندی راتاويږي او د يوناما دروازه (زمونږ په هيواد کي د ښکيلاکي پياوړتيا او پراختيا مهم افزار) د پرګنو د خلاصون مرجع ګڼل کيږي او زيارکښان دې ستم کاږي او د کارګر د ستري ورځ (چي د نړيوال انقلابي غورځنګ سمبول دی)د لمانځني پر ځای د ((حقوق بشر)) ورځ (د بورژوازي ستره ابداع د دې نظام د رذالتونو او جنايتونو د پټولو په موخه) لمانځي، هغه د زيارکښانو غوښتنو ته شاه کول او د شعله ای غورځنګ د وياړونو تر پښو لاندې کول ګڼي او دا پوښتنه راپورته کوي چي آيا پورتني مسايل د دې لپاره چي «خاين» څوك دی او «مبارز» چا ته ويلی شوو، د ارزوني تر ټولو غوره ځانګړنه او معيار نه دی؟ دا قضاوت په ځانګړي ډول د انقلابي ځوانانو دنده ده چي په پياوړي متو او په خوځنده مغزونو، د پرولتاريايي انقلاب بريالی بيرغ به همدا سبا د آزادګی پر لوړو څوکو وربوي.

د ټولي زيار ګالني سره چي دا مذبذبه روڼ اندي د نيواك د ميخ د ټينګولو لپاره تر سره کوي او امريکايي دموکراسي تمثيلوي، نيواکګري هم ورته موټي تش نه پريږدي، راز راز امتيازونه ورته ورکوي؛ ځکه نور ټول پدې پوهيږي چي اوسنی نړۍ د «راکړې ورکړې» نړۍ ده او هيڅ پيشکه د خداې لپاره موړك نه نيسي؛ نو ورته انجوګاني رسمي کوي او په بيدريغه پيسو يې نازوي، لويي کنسولي آسانتياوې ورته برابروي، اولادونو ته تحصيلي بورسونه ډالۍ کوي، په پيسي راوړنکو پروژو کي يې ډوبوي، په «معتبرو» رسنيو کي ورته تبليغ کوي، د «ميراني» په لسګونه مډالونه ورته په غاړو کي اچوي، په ستاينې کي ورته کتاب ليکي، فلم جوړوي او غټي جايزې ورکوي او په دغو سوغاتونو او وسيلو نړيوالو ته ښيي چي په افغانستان کي د راز راز او بيلابيلو ايډئولوژيګانو دوستان هم لري چي اوس په ډېره آسانی سره کولای شي شعله يان چي پرونه پوري ډير «تند خويه» او «تندويونکي» وو هم چپه کړي.

ځکه چي له دغه افزارو څخه يو يې هم، د هيواد د خلاصون په خدمت کي نه بلکي د اسارت عمر يې لا اوږدوي او ملګري مائو په دې اړه څومره په څرګند ډول وايي چي ((بورژوازي مطمئنا خلك فاسدوي او هغوی په خوړجنو مردکيو ولي. د بورژوازي خوړجن مردکي په دوه ډوله دي، مادي او معنوي)) دلته خوړجن مردکي عبارت دي له انجو، مډال، توصيفي فلمونه، بورس، جايزه، په ټاکنو کي ګډون او ويزه چي د دغو ((اوه ګونو بلاو)) له طريقه بورژوازي لمړي انقلابيان ځان ته ګونډو کولو او تسليمي ته اړ باسي او وروسته بيا له دې طريقه د پرګنو خوا ته درومي. نو دلته د «خاين» او د «غير خاين» تر منځ پوله اظهر من الشمس ده، هر ځوان چي حتی نيمه آګاهي هم ولري بايد پدې پوه شي چي هر څوك چي د بورژوازي د دې افزارو په لومه کي ځان ښکيل کړي او د «نيواك» د کمرنګولو لپاره «لاسوهنه» عنوان کړي، بې له شکه چي د بورژوازي د دې ډول امتيازونو څخه برخمن کيدی شي.

خو وروسته کله چي د غړو تر منځ د دې رسوايي لګن له بلي راغورځيږي او د «لاسوهني» نکريزې خپل رنګ له لاسه ورکوي او له تبرئې پرته کومه لاره نه پاتي کيږي، نو بايد د «لاسوهني» له اعتقاد څخه منکر شي. خو بيا دا پوښتنه مطرح کيږي چي ولي د نيواك په دې څو کلونو کي چي له کبله يې زياتي وينې تويې شوی، داسي باور ته نه وو رسيدلي او اوس دې ډول کشف ته رسيدلي دي، داسي ښکاري چي ښايي د ځينو خاصو پروژو پای ته رسيدل په کي خپل رول لرلي وي، ځکه چي د بورژوازي افزار د دې ډول تشکلاتو دريځ تلي.

دوی په خپل خام ګمان فکر کوي چي غلي ځوانان چي په زړه کي زرګونه ناويلي لري، به دا ښکرور درواغ ومني او د تيري په ويلو سره به خپل ګريوان له سوال کونکو او د شکاکو ځوانانو له منګلو څخه چي نور نو هيڅ ژبه هغوی افسون کولای نشي، خوشي کړي او د هغوی قناعت به حاصل کړي!!

د پورتنیو څرګندونو په پام کې نیولو او د یوه ساده قضاوت سره، دا پوله چې څوک ((خاین)) او څوک «مبارز» دی روښانه کیږي؛ که د دې افزارو خاوندان خپلو مخالفینو ته «خاین» ووایي، د سعدي د همغې مطایبې سره ورته ولري چې ویل یې: «... عاقلان دانند!» خوآیا شته داسې دګم او متحجر ځوانان او ځلمیان چې له تعقل څخه کار وانخلي او د ((خاین)) تور د هغو کسانو له خوا چې په خپله یې د بورژوازي د امکاناتو په توبره کې سر دننه کړی د هغو انقلابیانو په اړه ومني چې د دې ناوړ افزارو پر ضد دي او د انقلاب څخه د دفاع او د امپریالیزم سره د مبارزې پر لیکه ودریدلي دي؟ که دا ځوانان د ځینې مادي ستونزو پخاطر د دې ډول چرندیاتو په وړاندې په ښکاره توګه دریځ نشي نیولی، خو ډیر ژر په بل ځای کې څرګندوي چې دا ډول درواغ قطعا نه مني. دا ځوانان نباید له دې زیات خپل سپیڅلی ضمیر او انقلابي روح د هغو په چټلفکرۍ کې ډوب کړي چې د بورژوازي او پرولتاریا تر منځ د تضاد پولي باندې ملنډې وهي او ظاهرا په شعله ایي دریځ سره د انقلابیانو د دریځ د کمزور کولو او د نیواکګرې بورژوازی پښو ته د پرولتاریا د سر تیتولو په لټه کې دي. مائو یو وخت پوښتلي وو: «پر چا باندې باید تکیه وکړو، په کارګري طبقې یا بورژوازې؟» نو دا جوهر لرونکي انقلابي ځوانان باید ډیر ژر د مائوتسه دون دا پوښتنه تکرار کړي چې آیا د بورژوازې پر ابزارو تکیه کول بالاخره د پرولتاریا سره خیانت نه دی؟ او نباید د دې کړلیچونو څخه د ژغورنې لاره پیدا کړي؟ ځکه چې دا تشکلات د انجوپاله سیاست سره هڅه کوي چې انقلابي ځوانان د انجوګانو په داسې سرتیټو مامورانو بدل کړي چې نور د پرولتاریا نوم او د بورژوازي سره مبارزه یې په ضمیرونو کې پاتې نشي او په پرله پسې توګه دا ډول تشکلات د کمونیستي غورځنګ سره د روڼ اندو د لیوالتیا او علاقې د نشتوالي څخه خبرې کوي څو ځوانان په ماموریتي قفسونو کې مقید کړي. په داسې حال کې چې د افغانستان د انقلابي سازمان دوه کلنه مبارزاتي تجربه په دې تسلیم طلبانه او کرکجنې ادعا باندې د بطلان کرښه کاږي، ځکه په عمل کې توانیدلی چې نه یوازې د هغو ځوانانو چې د انقلابي سازمان په تشکیل او انشعاب کې همګام شول، د تئوریکي سطحې او انقلابي پوهې په لوړولو کې جدي هلې ځلې وکړي بلکې لږ تر لږه د انقلابیانو دوه ډلې چې پخوا یې نورو سازمانونو سره کار کاوه، د مرګ او ژوند په ژمنتیا او د امپریالیزم او د منحرفو او مدال اخیستونکو تشکلاتو په وړاندې زمونږ د ښکاره او نه پخلاکیدونکي دریځ په منلو سره، د افغانستان انقلابي سازمان ته جذب کړي.

د دغو ټولو دلایلو پر بنسټ په ډېره آسانۍ کولای شوو د ((خاین)) او ((مبارز)) تر منځ سرحد روښانه کړو او دا پوښتنه راپورته کړو چې آیا مډال اخیستونکي چې د ځوانانو هسکه او لوړه غاړه د امپریالیزم د ښکیلاکي بیرغ لاندې راټیټوي او بیا په بی شرمی سره دا خیانتونه «د تضاد څخه د استفادې» په مفتو او دروغجنو خبرو تیوریزه کوي، «خاین» دي یا هغه کسان چې د دې خیانتونو په ضد مبارزه کوي؟ که چیرې انقلابیان د دې ډول ستراتیژیکو انحرافاتو په وړاندې و نه دریږي او د یو شمیر پاکو انقلابیانو د ژغورنې لپاره چې لا تر اوسه په دې انحرافي لاره روان دي، دا انحرافات افشا نکړي او په هر علت چوپتیا غوره کړي، آیا کولای شي د انقلابي ادعا وکړي؟ انقلابیون باید په دې ټکي پوه شي چې د یو ګوند یا یو سازمان د تشکیلاتي رازونو افشا د هغې د ایډئولوژیکو انحرافاتو د افشا سره ځمکې تر آسمانه فرق لري که چیرې دا دواړه یو وګڼل شي نو د انقلابي بهیرونو تر منځ تیرې شوې کشالې، له بلشویکانو څخه د چین تر کمونیستانو پورې ټول باید خاینانه وي. زمونږ مبارزه دقیقا د همدغو انحرافاتو په وړاندې ده، بې له دې چې د «تشکیلاتي رازونو» آن یوه کلمه په کې هم افشا شوې وي، ځکه چې هر انقلابي پدې پوهیږي او دې ته ژمن دی، څرنګه چې خپل تشکیلاتي رازونه باید د تیرې کوونکو د ساطور تر لاندې وساتي، د نورو رازونه هم باید په خپله سینه کې ولري او که چیرې یوه وړه خبره هم په ژبه راوړي هغه به خاین او جاسوس وي. پدې توګه افشاګر هغه کسان دي چې د نورو تشکیلاتي، شعري، کورني او آن ولایتي نومونه په سایټونو کې خپروي او په

علني اکسیونونو کې د پروژې اخیستلو لپاره، ښځې او سړي واټونو ته راوباسي او په بهرنیو خپرونو کې د عکسونو د چاپولو وياړ يې لاس ته راوړي.

د نیواکګرو او غیر نیواکګرو امپریالیستانو څخه د جایزې او مډال اخیستل د هغه څه سره چې انقلابیان په ولسي جګړه کې د امپریالیستانو له تضادونو څخه ګټه اخلي، په بشپړه توګه فرق لري او په قطعي توګه د یو بل په مقابل کې واقع کیږي او دا لاطائلات هغه کسان مني چې یا له تضادونو څخه د استفادې په اړه هیڅ پوه نشي او یا پوهیږي، خو د انتقاد شهامت نلري او په سرټیټې دا ټول مني او هیڅکله د ویلو لپاره څه نلري. مائوتسه دون په چین کې د ولسي جګړې په بهیر کې، واقعا چې د امپریالیستانو له تضاد څخه ګټه واخیسته؛ نه یوازې هغه، بلکې ستالین د بلشویکانو ستر رهبر هم د دویمې نړیوالې جګړې په جریان کې له یرغلګرو او مدافعو امپریالیستانو له تضاد څخه ګټه واخیسته. خو مائوتسه دون هیڅکله هم له جاپاني نیواکګرو څخه کوم څه وانه خیستل، بلکې د خپل وطن پر خاورې او ناموس باندې یرغلګر ځواکونه د کمونیستانو د وینو په بې پایه سیند کې ډوب کړل. که چیرې مائو له جاپاني نیواکګرو څخه د ((قهرماني)) مډال او جایزه اخیستې وی، خپل هیواد او ګوند ته «خاین» نه بلل کیده؟ آیا د هېواد ولسونو يې هغه د یو «وطن پلورونکي» په توګه مختورې او نه رټو؟ زمونږ د هېواد اوسني نیواکګر څوك دي؟ امریکایان، فرانسویان، ایتالیویان، اسپانیویان یا نور امپریالیستان؟ نو له دغو یرغلګرو څخه مډال اخیستل له دې سره که مثلا مائو هم د یرغلګرو جاپانیانو څخه مډال اخیستی وی، څه فرق لري؟ اساساً د اشغالګرانو او انقلابیانو تر منځ دا د وینې او ایرې ځپانده سیند دی چې پوله جوړوي او د پولې هره خوا خپل «اتلان» لري. زمونږ د هېواد د اوسني اشغالګرانو اتلان اوباما، ضیاء الحق، پیوشه، مارکوس، جنرال کریستال، جنرال پتریوس، ګلبدین، ډاکټر عبدالله او هر هغه څوك دی چې مډال یې واخلي، خو د انقلابیانو اتلان چه ګوارا، ګلسرخي، مجید، اشرف دهقاني، مینا او داسې نور مبارزین دي چې د نیواك او پانګې د هیڅ یو بیرغ لاندې یې جایزه او مډال وانه خیست، بلکې د اشغال د بیرغ ځیرولو لپاره یې خپلې وینې د انقلاب نیالګي ته ډالۍ کړی. آیا که د کین له مدعیانو څخه یو تن، زمونږ د هیواد د نیواکګرو لخوا اتل وټاکل شي او مثلاً د متحده ایالتونو د بیرغ لاندې د «زړورتیا» مډال واخلي، د چه ګوارا او ګلسرخي په کتار کې ودریږي او که د مك کریستال یا ډاکټر عبدالله په کتار کې؟ دې پوښتنې ته ځواب، انحراف او غیر انحراف په ډاګه کوي. انقلابي ځوانان له دې پرته چې له دغو دوو لارو څخه یوه وټاکي، بله لاره نلري، یا د بورژوازي اتل، یا د پرولتاریا اتل؛ یا باید د امپریالیستي مډالونو پخاطر د لوټمارانو د سفارتونو درشل ښکل کړي او په انقلابي طرز فکر باندې د بطلان کرښه راوکاږي او یا د ستر اتل چه ګوارا د مبارزې بیرغ چې یوه ورځ د همدې مډال ورکونکو لخوا تیرباران شو،پر اوږه کیږدي؛ دلته د هغوی په اند به «خاین» څوک وي؟

مډال اخیستونکي چې سخت په ربړیدونکي وضعیت کې کلابند شوي دي او زمونږ د هیواد د نیواکګرو څخه د مډال او جایزې اخیستنې څخه دفاع نشي کولی، په هغه انتقاد کونکي چې د پرولتاریایي انقلاب له حریم څخه دفاع خپله دنده ګڼي، له دې پرته چې د ((افشاګر)) نوم پرې کیږدي او د ځوانانو په احساساتو باندې لوبې وکړي، بله لاره نه لري. لاکن دا د دې ځوانانو وجداني دنده ده که چیرې د بیزو ډوله دنباله روي مخالف دي او درواغ له واقعیت څخه بیلوي، باید پدې پوې شي چې د دغو بې بنسټو تورونو تر شا ناوړي نیتونه پراته دي او په دې تور سره چې ګواکې ((د دوی د بوټانو بندونه هم افشا شوي دي)) او د «ټولې زیاتې افشاګرې» او ((تر ټولو لوی خیانت)) په تورونو سره د دې ناوړي نیت د تر سره کولو لپاره ذهنیتونه چمتو کوي او په دې توګه د خپلو انحرافاتو ګناوې په نورو باندې باروي. خو لکه چې دا ځل داسې یو تشکیلات او انقلابیانو سره مخامخ دي چې د فکري او تشکیلاتي ژور بدلون او د دې انحرافاتو د صادقانه منلو او د هغې د حلولو لپاره دکوښښ پرته بله حربه نلري او هغوی به د انتقاد

ښخه و نه ژغوري او دا ګواښونه به د دې تشکيلات انقلابي تکل يو ذره هم ټکنی نکړي. ځکه چې له بده مرغه دوی يوازې ايډئولوژيك منحرفان ندي، بلکي دننه هم د ورسته کيدو او له يو بل د بې فرجامه ځپلو سره مخامخ دي او د هيواد د انقلابي غورځنګ تشکلاتو او افرادو ته هم د بورژوازی د درشل ښکلونکو په توګه منفور او مطرود دي او ټول په دې شرميږي چې د هغوی نوم د کېن په توګه مطرح کړي.

د هر وګړي او جريان په انحرافاتو باندې چې په درواغو ځان انقلابي بولي او ولسونه د انقلاب د ګلشن پر ځاي سراب ته بيايي،ګوته اېښودنه د انقلابيانو دنده ده چې پر انقلابي ايډئولوژي باندې دا ډول پېښه اېښودنه د فاکت، دليل او مارکسيستي منطق سره افشا کړي نه دا چې د دوی د ماشومانه ادعا له مخې ((ډونران خبر کړي چې د فلاني تنخوا دې قطع شي))؛ مونږ د يو آګاه تشکل په توګه پدې ښه پوهيږو چې دې ډول کار ته لاس وهل د جاسوسی په لومه کې د ښکيل کيدو پرته بل څه نه دي، ځکه زمونږ په اند تر څو چې د انحرافاتو ايډئولوژيکي ريښې په خاصه توګه د بورژوازي سره غاړه غړی کيدل و چې نه شي، د تنخواه د قطع کولو لپاره (هغه هم که څوك پوه شي چې د دوی د رزق سوري چيرې دي) جاسوس وزمه ((شيطاني)) اقدامات د هغوی د انحرافاتو پر مخنيوي هيڅ ډول اغيزه نلري. که دوی په صداقت سره ووايي چې مونږ ستاسو د انقلاب او مارکسيزم سره کار نه لرو او هر څوك چې له ((نړيوالي ټولنې)) څخه مډال او جايزه وانخلي، ((خاين)) دی هغه وخت به مونږ د هغوی سره کوم بحث او کشاله ونلرو.

واقعي انقلابيان چې هيڅ ډول انحراف ته اجازه نه ورکوي څو انقلابي ځوانان سراب ته ويسي، د هر شمال سره نه رپيږي، په «باروتو» ګواښل په ملنډو نيسي، له هر ډول انحراف څخه د صفوفو د پاك ساتلو په موخه به پر خپل عزم باندې په کلکه ټينګار وکړي، که چيرې داسې نه وي او د هر ګواښ او ترور له ويرې چوپتيا غوره کړي، په هغه صورت کې به د انقلاب له حريم څخه د دفاع ادعا او د دې ډول انحرافاتو څخه د واټن اخيستلو اصالت څه معني لرلې شي؟

مرګ پر امپرياليزم

مخ په وړاندې د سوسياليزم په لور

د افغانستان انقلابي سازمان

د تلې مياشت ـ ۱۳۸۸